UNAMA

دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان

دفتر ارتباطات استراتیژیک و سخنگوی، کابل، افغانستان

مطبوعاتی بیانیه

http://unama.unmissions.org

## یوناما د افغانستان له ټاکنيزو بنسټونو سره د موټرو مرسته وکړه

**کابل،۲۰۱۳ کال د ډسمبرڅلورمه نيټه:** د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي دفتر (يوناما) نن د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د اوريدو کميسيون سره د دولسو موټرو مرسته وکړه.

په پلازمينه کابل کې په دې تړاو جوړو شوو مراسمو ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي مرستيال او د يوناما سرپرست نيکولاس هيسم  وويل:"د دوی د غوښتنې په صورت کې يوناما چمتو ده چې د افغانستان د ټاکنيزو ادارو د چارواکو ملاتړ وکړي، چې دا کيدای شي په دې برخه کې له تخنيکي سلامشورو نيولې بيا آن په نورو هيوادونو کې د ملګرو ملتونو له تجربو څخه ترلاسه شوې غوره عملي لارې چارې راونغاړي“  .

نوموړي زياته کړه: "اوسمهال پر يوناما د ترانسپورتي اړتياوو په برخه کې د مرستې غږ شوی، يوناما خوښه ده؛ په داسې دريځ کې ده چې د دغو ادارو چې پر وخت او د با اعتباره ټاکنو په ترسره کولو کې مهم رول لري، ملاتړ کوي"

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون د دارالانشا مشر ضيا الحق امرخيل د دغو موټر د سپارلو په مراسمو کې وويل: "د نړيوالې ټولنې د تخنيکي او مالي ملاتړ پرته موږ بنايي ونشو کړای چې دغه مهمې او تاريخي ټاکنې ترسره کړو".

پر همدې مهال د ټاکنيزو شکايتونو د اوريدو کميسيون د دارالانشا مشر ډاکتر على ستيغ زياته کړه : "موږ د راتلونکو ټاکنو د شفافيت د يقيني کولو لپاره د ملګرو ملتونو د تخنيکي مرستې په اړين والي پوهيږو".

ټاکل شوې د افغانستان راتلونکې ولسمشريزې او د ولايتي شوراګانو ټاکنې د ۲۰۱۴ کال د اپريل په پنځمه نيټه ترسره شي. د ملګرو ملتونو د امنيت شورا لخوا يوناما ته د ورکړل شوې ماموريت له مخې يوناما ژمنه ده چې  د افغان چارواکو او بنسټونو د غوښتنې پر بنسټ د ټاکنو ملاتړ وکړي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**